## د کرونا په پلمه د روژې په اعمالو او عباداتو کې د ستونزو رامنځته کول

**(ژباړه)**

د روان کال روژه داسې را ورسېدله چې پخوا په څېر مو هرکلی ورته ونه کړ. مسلمانان باید په دې غمجنه فضا کې ډېر متوجه وي، ځکه داسې خلک شته چې نه غواړي مسلمانان دې د دغې میاشتې له خیر او برکت څخه ګټه واخلي. هغوی هڅه کوي چې د دغې میاشتې د ډله ییز عبادت غوره بڼه بدله او پیکه کړي. د دیني چارو وزارتونه/ حج و اوقاف د مسلمانانو په بېلابېلو خاورو کې د حکومتونو په امر په خپل سر فتواوې ورکوي. سره له دې چې د جوماتونو تړلو ته دوام ورکوي، په جوماتونو کې په جماعت سره د لمانځه کولو مخه هم نیسي. د جمعې لمنځونه یې له وړاندې ځنډولي وو ... د تراویح لمونځ یې منعه کړی و، په داسې حال کې چې د روژې په مبارکه میاشت کې به لوی جوماتونه له خلکو ډک وو، د لمونځکوونکو کتارونه به له جومات څخه بهر هم غځېدلي وو او حتا د جومات شاوخوا لارې به تړلې وې. اعتکاف او د ډله ییز روژه ماتي ټول فعالیتونه یې پرېښېښودل او د روژې هغه ځانګړې عمره یې هم منعه کړه، چې مسلمانانو به یې ادا کولو ته سخته لېوالتیا درلوده او د خلکو شمېر به پکې حتا له حاجیانو هم ډېر و. دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه حدیث و:

**«فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً معي»**

***ژباړه:*** *د روژې په میاشت کې عمره کول داسې دي لکه له ما سره چې یو ځای حج وکړي.*

پر دې سربېره رسنیو هم رذالتونه کول او د روژې په فرضیت کې به یې ستونزې راپورته کولې؛ داسې چې ایا مسلمان ته روا دي چې د کرونا ویروس له امله خپله روژه وخوري؟ دوی د ځان ساتلو ته د عبادت تر ادا کولو لومړیتوب ورکوي ... او هغه کسان چې د مسلمانانو خیر نه غواړي، په دې هڅه کې دي چې له روژې څخه د ډله ییز عبادت صفت لېرې کړي او په بدل کې یې خلک په کور کېناستلو او خرابو سریالونو ته په تسلیمېدو اړ کړي. نارینه او ښځینه هنرمندان یې د دغې مبارکې میاشتې ستوري ټاکلي وو او دا مخنیوی په اصل کې د دولت له قوانینو سرچینه اخلي او لازمي یې ګڼي.

له شک پرته هغه کسان چې د مسلمانانو واک یې په لاس کې دی او د جوماتونو د مخنیوي او تړلو پر اساس امر کوي، ټل د الله سبحانه وتعالی د شریعت خلاف روان دي. د دغه ویروس پیداکېدل ورته یو فرصت و، چې دا ډول تصمیمونه پلي کړي؛ لکه څنګه چې د مسلمانانو د یووالي راتګ یې له سترګو څخه خوب تښتولی و او پر وړاندې بیخي ناتوانه وو، ځکه دغو حالاتو د دوی حقیقت را برسېره کاوه. دوی به هر کال هڅه کوله چې د روژې میاشتې په را رسېدو سره داسې لوبه وکړي، چې په یوه ورځ د مسلمانانو د روژې او اختر مخنیوی وکړي. موږ مسلمانانو ته دا یادونه کوو، چې د دوی دین د امت دین دی، نه د افرادو؛ د وحدت او یووالي دین دی، نه د اختلاف؛ د

دولتداری، اساسي قانون او هغو قوانينو دين دی چې اجازه نه ورکوي يوازې په عباداتو او اخلاقياتو پورې محدود شي.

مسلمانان بايد په پوره توگه دا درک کړي، چې حکام يې لېوان دي او په هر لوري چې دوی ولېږي، خير يې نشته.

د کرونا په شان ناورين د حضرت عمر رضی الله عنه په وخت کې هم رامنځته شوی و. ده او لويو صحابه کرامو له هغه ناورين سره ايماني چلند وکړ او د کرنتين پر مهال شرعي احکامو ته ژمن وو. د دې تر څنگ هغه ناورين صحابه کرام د جهاد او نورو عباداتو له کولو را ونه گرځول او چارې يې داسې مخته يوورې، چې د شريعت د احکامو خلاف نه وې.

مسلمانان بايد خپل واک او اختيار په خپل لاس کې واخلي؛ داسې چې له ناروغۍ سره احتياط وکړي، خو پرته له دې چې عبادات دې وځنډوي يا يې په پلي کولو کې ستونزې رامنځته کړي. که چېرې ناروغۍ ځينې اړتياوې درلودې، نو له شک پرته چې هره اړتيا ځانگړې اندازه لري. نه بايد ټول خلک بند پاتې شي او نه هم په پوره توگه ټول ازاد پرېښودل شي؛ دا رول يوازې د رباني علماوو لخوا ادا کېدلی شي، نه د رسمي او درباري علماوو لخوا.

**له الوعی مجلې څخه اخيستل شوی- شمېره ۴۰۴**

**ژباړن: منصور دريځ**